حنیف بکتاش

# د نښت پرتکي

نن شپه مې بيا د زړه مېلمه يې مېلمه
خپلي تنها شپېې وېشم درسره
له غاړه کې نه دې لوېدلي مرۍ
راجېلومه په ورېښم درسره

کله چې لمر له کلي کډه وکړي
زړه مې د هسک پر سينه تالتوي
لکه ويشتلي مرغۍ ، څريکو سره
په تا کې هيله ، تا کې سا لټوي

د هسک په زړه کې ډېوې ډېرې بلې
خو سترګې ستا لوري ته لاره باسي
ستا په ښايست کي څه رازونه نغښتي ؟
زړه له کو ګله بې اختياره باسي

چې له کوڅې نه غږ د پښو پورته شي
زه وايم خدايه زما مينه راغله
د مقدسو آيتو له نړۍ
زما د روح نړۍ ته سپينه راغله

د بڼ له لورې چې وږمه ولګي
وايم هغه ده ، ګوره بېرته راځي
زه مې له بخته سره څه وکړمه ؟

نه هغـــه نــه ده بابا چېـــرته راځــــي ؟

زه د تیارې او د سپېدې تر منځه
د نښت پر ټکي لکه سات پاتې یم
پر شاو خوامې دي د غم لښکرې
لکه بې وسه باچا مات پاتې یم

هره خوا ګورم دیوالونه ښکاري
لکه چې ګور کې کرایي ناست یمه
روح رانه تښتي ، زړه یاري نه کوي
آسمان ته لاس په ګدایي ناست یمه

پسرلی 2009 کال لندن